مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ٢٠٢٠/٠٨/١١

# ارمان

څه د میني وو وختونه، چې به راشي بیا که نه
د خندا وو څه ساتونه، چې به راشي بیا که نه

یو روان خوف و رجا کې، باور نه شته په سما کې
پخوا ډیر ښه وو فکرونه، چې به راشي بیا که نه

اوس هر څوک په خپله مخه، هر خوا لاړ، هره خوا لاړل
پخوا ډیر وو پیوندونه، چې به راشي بیا که نه

زمانه داسي راغلي، خلک هر څه نه منکر دي
په هر څه وو سندونه، چې به راشي بیا که نه

ظلم ډیر شو او ډیریږي، درانه ډیر بې پته کیږي
پخوا ډیر وو کرمونه، چې به راشي بیا که نه

هر خوا ګورې سره سرخي ده، هر یو تن تپي، تپي دی
پخوا ډیر وو مرهمونه، چې به راشي بیا که نه

کلی وچ ښارونه وچ دي، هر خوا وچه وچوبه ده
هم ویالي وې هم سیندونه، چې به راشي بیا که نه

که هر څو خواري پرې وکړې نه حاصل شته نه ثمر شته
پخوا ډیر وو ثمرونه، چې به راشي بیا که نه

٢٠٢٠/٠٦/١٠
هیدرسلیف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولئ